مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۳/۱۶

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

نهمه برخه

(د «مهسا» تبنتونه او وژنه)

لومړۍ برخه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

**په اوسنۍ زمانه کې له کوچنيانو سره د تاوتريخوالي څو غوره بيلګې چې د بشريت نامه ته يې تور داغ ګڼلی شو:**

**۱ ـ د سوريې په جګړه کې يو ماشوم په زخمي حالات کې ډاکټر ته وايي: زه به خدای ته ټولې خبرې وکړم چې څه روان دي.**

**۲ ـ د موصل په ښار کې يوه عراقي جينۍ په زخمي حالات کې منډې وهي کمره مين ته وايي: کاکا زما ويډيو مه کوه بې حجابه يم.**

**۳ ـ يو فلسطيني ماشوم د ډيرې لوږې په وخت کې خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.**

**۴ ـ د افغانستان په جګړه کې د يو ماشوم لاس شديد زخمي وو، ډاکټر سره د لاس له پرې کيدو پرته بله لار نه وه. ماشوم ډاکټر ته وايي: ډاکټر صاحب د لاس پرې کيدو په وخت کې مې لستونی مه پرې کوه نورې جامې نلرم.**

**۵ ـ او په پای کې زموږ «مهسا»، چې د اسارت او مرګ شيبو کې به زموږ «مهسا» څه ويلي وي؟**

«له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ستونزه» تر سرليک لاندې د مقالو د خپرولو په پيل کې ما دې موضوع ته اشاره کړې وه چې:

زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنيانو پر ضد تاوتريخوالی د يوې داسې سونامي حيثيت لري، چې زموږ د ټولنې په يوې محسوسې او عيني ستونزې بدله شوې ده. دا سونامي هر نسل، هره لسيزه، هر کال، هره مياشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقيقه او هره شيبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنيانو اوسنی او راتلونکی ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته يې سر له اوسه ور پورې وهي.
خو اوس خبره نوره هم خرابه او داسې بريد ته رسيدلې ده چې زموږ د ټولنې له پاره د لمنې او تندې د تور داغ حثيت لرلای شي.

د کوچنيانو او ماشومانو د ژوند د خونيدتوب او هر اړخيز ښه کېدو په برخه کې چې په هېوادنۍ، سيمه ايزې او نړيوالې کچې څه ويل شوي او يا کوم قوانين وضع شوي دي؛ يوه سلنه هم د افغانستان د ماشومانو او کوچنيانو له پاره نه په پام کې نه نيول شوي دي او نه تطبيق شوي دي.
کله، کله به چې ما د ځينو مقالو په پيل کې، په ترڅ کې او يا په پای کې ليکل:

د ماشوم د حقونو په رڼا کې،
که د افغانستان ټولنه، په ټول کې
و ارزول شي، داسې بايد و ويل شي
چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له
پاره د مځکې پر مخ د يوه رينښتيني دوزخ حيثيت لري.

نو ځينو دوستانو به راته ويل چې:

«ته يو څه افراط کوې!»

ما به بيا ورو ورته وويل چې:

«ور به شي، خبر به شې!»

چې دربانډې راشي، بيا به پوه شې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

اوس د «مهسا» د ژوند په بيه، د دې د کورنۍ د تلپاتې وير په بيه او د افغان ټولنې د هر ماشوم او د هغوی د کورنيو د دايمي ډار په بيه دا ثابته شوه چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د څه شي حيثيت لري؟

ــ د عادي نړۍ،

ــ د جنت،

ــ د برزخ،

ــ که د دوزخ.

د «مهسا» تښتونې او بيا وژنې ته چې له هره اړخه وکتل شي، پايله به يې دا وي چې په رېښتيا زموږ ټولنه د ماشوم د حقونو په رڼا کې، په ټول کې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د مځکې پر مخ د يوه رېښتيني دوزخ حيثيت لري.

د وژنې تر بريده پورې تاوتريخوالي د څه ډول حالت زېږنده ده او له کومو خلکو او کوم ډول رژيم سره دا تاوتريخوالی راغی او پسې باب شو؟

د سرو، شنو، سپينو او تورو بدلونونو په پايله کې د افغانستان په نامه ټولنه بې ښځته نغری شو او بې سرپوښه ديګی شو، هر څوک راغلل او د خپل ديګي د پخولو په پار يې په دې نغري کې د خپلې خوښې سون توکي کېښودل، په خپل ديګي کې چونچه وښوروله، د خپلې خوښې خواړه يې پاخه کړل، څوک يې په خپله مخه ولاړل او څوک يې اوس هم د خپلې سپين سترګۍ او زموږ د ناپوهۍ پر اساس لا همدلته زموږ د وطن په ورانو کوڅو او زموږ د فکرونو په بويونو باغونو کې د حاکمانو په څېر چکر وهي.

موږ ته که له خپلو رارسېدلي دي او که له پرديو؛ ټول مو له خپلې ناپوهۍ، بېسوادۍ او په زړو ځنځيرو کې د پاتې کېدو په وجه رارسيدلي دي.

په دې را رسېدلو تاوانونو کې يو د «باور» د نشتوالي مساله ده. زر ځلې چې چا ته ووايې چې سبق، درس، تعليم هغه هسې په رنګارنګ غير علمي او نامنلو الفاظو داسې ځواب درکوي چې هم دې خندا ورته راځي او هم به ورته وژاړې.

له بده مرغه چې د سياسيونو د عمدي او غير عمدي منفي عملونو او د استفاده جو خلکو د دايمي غولونو په وجه، زموږ په ټولنه کې بارو وژل شوی دی. دوی په دې نه پوهېدل او نه پوهېږي چې د باور وژل، د انسانيت وژل دي او پايله يې دغه حالات دي چې اوس يې خلک د ژوند په بيه پور ادا کوي. هيله ده چې باور ونه وژنئ، باور د ژوند مالګه او د وړاندې تګ يوه مهمه وسيله ده.

او په پای کې د جګړې سونامي او له هغې نه رازېدلې په لسګونو نورې سونامیګانې چې يوه په کې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ستونزه ده.

د لومړۍ برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ